# بايزيد روښان او اشراقي معرفت

ليکوال: محمد اکبر کرگر

١٣٩٨ هـ ش

بايزيد روښان او اشراقي معرفت

ليکوال: محمد اکبر کرگر

١٣٩٨ هـ ش

# Bayazid Roshan and Theosophical Knowledge

Author: M. Akbar Kargar

ISBN 978-9936-645-65-3
9 789936 645653

2019

# بایزید روښان او اشراقي معرفت

لیکوال: محمد اکبر کرګر

۱۳۹۸ هـ ش

بایزید روښان او اشراقي معرفت

لیکوال: محمد اکبر کرګر

۱۳۹۸ هـ ش

# Bayazid Roshan and Theosophical Knowledge

Author: M. Akbar Kargar

ISBN 978-9936-645-65-3
9 789936 645653

2019

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکادمي

د خپړونو او عامه اړیکو ریاست

# بایزید روښان او اشراقي معرفت

لیکوال: محمد اکبر کرگر

۱۳۹۸ هـ ش

## د کتاب ځانګړني

**د کتاب نوم:** بایزید روښان او اشراقي معرفت
**لیکوال:** محمد اکبر کرګر
**اډېټور:** څېړنپوه نصرالله ناصر
**مهتمم:** خادم احمد حقیقي
**چاپ کال:** ۱۳۹۸ هـ ش
**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د خپرونو او عامه اړیکو ریاست
**مطبعه:** چهاردهي صنعتي مطبعه
**ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-٦٤٥-٦٥-۳**

**د چاپ حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# فهرست


**عنوان** **صفحه**

بایزید روښان او اشراقي معرفت ........................................أ

روښاني ختيځ ........................................................ه

د کرګر صاحب نوی کتاب ..............................................ك

**لومړی څپرکی**

بایزید روښان او د هغه اشراقي معرفت .................................. ۱

د مسألې طرح ......................................................... ۱

**دوهم څپرکی**

شيخ الرئيس ابو علي ابن سينا او اشراقي فلسفي افکار ..................۷

**دريم څپرکی**

د اشراق فلسفه او د شيخ شهاب الدين سهروردي لنډه پېژندنه .............. ۲۱

**څلورم څپرکی**

د روښان اشراقي معرفت ................................................ ۳۱

د بایزید روښان اروايي بحران او وسواس.................................. ۳۲

د بایزید په وړاندې د معنوي روښنايي ځلېدنه اوبه او شراب................ ۳۶

شيخ محی الدين اکبر او د معجزو او کراماتو پير خضر...................... ۴۱

د خيال د خلاقيت مسأله................................................. ۴۳

شيخ فريد الدين عطار .................................................. ۴۹

**پنځم څپرکی**

د خوب ليدلو فلسفي او اروايپوهنيز اهميت................................ ۵۷

رمزونه او سمبولونه ..................................................... ۷۳

د حيات يا د ژوند چينه ................................................. ۷۴

د بحث وروستۍ خبرې.................................................... ۷۵

## شپږم څپرکی

خیرالبیان او اشراقي معرفت ........................................... ۷۹
الف: بدایة الکتاب او د خیرالبیان عرفاني –فلسفي لاربښوونې ............. ۷۹
ب. د ژبې او فرهنګ د پرمختیا هڅې ....................................... ۸۳
ج. مونولوګ ...................................................................... ۸٤
د. لاهوتي لاربښوونه انسانانو ته د خدای پېژندنې امر او حکم ............ ۸۵
هـ. د کتاب لیکلو تلقین ........................................................ ۹۰

## اووم څپرکی

خیرالبیان او عرفاني اخلاقي سیستم ........................................ ۹۷
الف: رښتینې لار؛ سمه لار ................................................... ۹۷
ب. ډار او ترهه پنځول ........................................................ ۱۰۰
ج. اخلاقي ارزښتونه او د خیر و شر مسأله ................................. ۱۰۳
حرص او نوس یا نفس ......................................................... ۱۰۹
هـ. د هیومانیزم او عقلانیت پیغام ........................................... ۱۱۰
و. د عقل د ویښولو فرمان ..................................................... ۱۱۲

## اتم څپرکی

بایزید روښان او د هغه انسان محوره تصوفي عرفاني لاره ................. ۱۱۵
۱. د مسألې پس منظر ............................................................ ۱۱۵
۲. د روښانیانو د ظهور نوی باب .............................................. ۱۲۱
۳. روښاني فکري او عقیدوي لاره ............................................. ۱۲۳
۴. رښتینې لاره ................................................................... ۱۲۷
۵. تصوفي تعلیمات .............................................................. ۱۲۸
۷. مقامات ......................................................................... ۱۳۵
اخځلیکونه ........................................................................ ۱٤۳

# بايزيد روښان او اشراقي معرفت

کلونه وړاندې چې ما په «حالنامه کې د بايزيد روښان په عرفاني او فلسفي څېره» اثر، کار کاوه، د حالنامې گسستتنر نسخه د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا چمتو شوې وه. هغه مهال مې د بايزيد روښان او روښاني غورځنگ په اړه موجود اثار ولوستل. وخت په وخت مې له استاد کانديد اکاډيميسن صديق روهي سره مشوره هم کوله. په حالنامه کې د زياتو مسايلو تر څنگ هماغه مهال په عرفاني سير و سلوک کې د هغه اروايي، فکري او اشراقي مسايلو ته زما پام واوښت. سره له دې چې ما په ياد اثر کې پر هغه مهال په دې اړه ځينې ټکو ته اشارې وکړې، خو هېڅکله بشپړې نه وې.

له بلې خوا د افغانستان په سياسي فرهنگي او تيولوجيک فلسفي تاريخ کې دې پايلې ته ورسېدم چې خپله بايزيد روښان څومره چې مستحق و او څومره چې يې په خپلو خلکو او اولسونو حق و، هيڅ پام ورته نه دی شوی؛ ان تر دې چې د هغه او د روښنايي دښمنانو هڅه کړې، د روښانيانو اثار نابوده او له منځه يوسي. هيله ده چې زما خبره بنسټپاله ونه بلل شي، خو بايد و وايم چې بايزيد روښان د سيمې د تاريخ په کچه په تاريخي، فرهنگي، ديني او سياسي لحاظ بې بديله شخصيت تېر شوی، هم د دې غورځنگ مبارزو، په پښتون ولس کې يې د «ځانخبرۍ» تخم شيندلی او په خپل ځان يې د خپل حاکميت کولو مفکوره غځولې ده چې بيا نورو تعقيب کړې او تر ننه لا ژوندۍ ده. په دې اساس اړينه بولم چې د هغه نامه ته منسوب غورځنگ باندې ژوري څېړني دوام وکړي.

ماته د دې اثر د ليکلو انگېزه هغه وخت لا ژوندۍ شوه چې قدرمن

څېړونکي استاد معصوم هوتک چې خپل ژوند يې د پښتني فرهنګ د تتو ګوټونو روښانه کولو ته وقف کړی دی، دوه بشپړ اثار يعنې دخيرالبيان بشپړه نسخه او  صراط التوحيد يې چاپ کړل. د صراط التوحيد اهميت په دې کې هم دی چې همدا اثر بايزيد روښان د خپل خليفه دولت لواڼي په لاس اکبر باچا ته استولی و. اکبر باچا هم چې په خپل وخت کې يې خاص تيولوجيک نظر درلود، د دې اثر استقبال کړی و. د خيرالبيان حاضره نسخه هم چې روښانه لوستل کېږي هغه بشپړه يوازينۍ نسخه وه. کله چې دا دواړه اثار چاپ شول ما دواړه راپيدا کړل. د صراط التوحيد په لوستلو مې پيل وکړ او يوه مهمه مسأله چې تر اوسه پرې په پښتني فرهنګ کې چا کار نه و کړی د «اشراقي معرفت» مسأله وه. زما پام د روښان خوبونو او له حضرت خضر-سره ملاقاتونه چې په نورو عرفاني او صوفيانه ښوونځيو کې يې هم يادونه شوې وه او همدارنګه الهامي اوازونه او هاتفي پيغامونو ته واوښت او پر ياده مسأله مې يوه څېړنيزه مقاله وکښله. مقاله مې ښاغلي هوتک ته واستوله. هغه له لوستلو وروسته وهڅولم چې دا کار بايد د يوې رسالې يا يو اثر تر بريده بشپړ شي. ما هم قوت واخيست او د دې کار لپاره مې د شيخ الرئيس ابو علي ابن سينا، شيخ اشراق شهاب الدين سهروردي، عطار نيشاپوري او نورو اثار ولوستل او د هغو په رڼا کې په پښتني فرهنګ کې نوو مسايلو ته ورسېدم.

دلته د دې خبرې يادونه اړينه ده چې په پښتو ادب او فکري جريانونو کې د اشراقي معرفت د مسألي راسپړل يو نوی کار دی. تر مخه په دې اړه د استاد روهي له يوې مقالې پرته چې د رحمان بابا د اشراق په باب يې ليکلې، نورې ما ته نه دي تر سترګو شوي يا کېدای شي ما به نه وي لوستې.

د اشراقي معرفت مسأله د يو فکري جريان په توګه په ختيځ فرهنګ او

په تېره زموږ په فرهنګ کې چې د یادې حوزې برخه یو موجوده ده او باید روښانه شي. همدارنګه په پښتو ادبیاتو په تېره شعري کلام کې زیاتې نمونې او مثالونه شته چې باید راوسپړل شي.

خوشحال بابا وایي:

عارفان د سر په سترګو ګوتې کېږدي
د خپل زړه په سترګو ګوري تماشا کا

په دې اساس مې د «بایزید روښان او د هغه اشراقي معرفت» دا اثر بشپړ کړ. بیا هم د استاد معصوم هوتک منندوی یم چې لارښوونې یې ونه سپمولې. همدارنګه د ځوان او ډېر مستعد او خلاق شخصیت عبدالغفور لېوال د ښې مشورې او په زړه پورې لیکنې شکریه ادا کوم چې هم یې اثر ولوست او هم یې پرې لیکنه وکړه. اوس دا دی اثر ستاسو په وړاندې دی. په فکري بهیر کې په روښانیت باندې دا یو اثر دی. دلته د اتنوګرافي او نورو مسایلو شننه نه ده شوې، بلکې په پرتلیزه او د متن را سپړنې په میتود چلند شوی دی. کېدای شي، نیمګړتیاوې ولري. دا به د پښتني فرهنګ له فکرې برخې سره مرسته او پېرزوینه وي چې نیمګړتیاوې یې روښانه او په ګوته شي او د بیاځلي کارونو لپاره لاره هواره شي. زه به منندوی یم چې د لوستونکو نظریات او لارښوونې ترلاسه کړم او د خپلې ډېرې ژورې مینې او په روښانیت باندې د ژور اعتقاد له مخې نورو کارونو ته اوږه ورکړم.

**اکبر کرګر**

لندن – ډسمبر، ۲۰۱۸

## روښاني ختيځ

له اشراق سره د روښاني مسلک تړاو له همدې ځايه پيلېږي چې د قاضي عبدالله زوی بايزيد انصاري ځان «روښان» بولي او خپل ټول عرفاني بهير ته روښاني طريقه وايي. وروسته دی د پير روښان په نامه شهرت مومي، د پښتو ادبياتو د تاريخ يو پړاو روښاني ادبيات نوموو او د ده ټول پيروان روښانيان او خوځښت ته يې روښاني نهضت وايو .

دا هېڅ تصادفي نه ده چې بايزيد ځان روښان شوی ګڼي. د اشراقي فېلاسوفي له نظره د «هستي» ظهور د هغې روښانېدل او له تيارې څخه راوتل دي. بشپړه يا مطلقه تياره د نېستۍ نوم دی او همدا چې پر يو «څه» نورالانوار څرګند شي، نو هغه «روښان» شي يعنې هست شي .

نوموتی اشراقي فېلاسوف شيخ الاشراق شهاب الدين ابوالفتوح يحيی بن حبش بن اميرک السهروردي (۵۴۹ ــ ۵۸۷ هـ ق) ليکلي: «د ظهور د ازل په سهار او د وجود د لړۍ په سر کې نورالانوار دی، هغه له لذاتو سره غني نور او مطلق قيوم چې د هر موجود وجود د هغه په اَتَم او اکمل وجود او د هر ظاهر ظهور د هغه په اعلی او اشرف ظهور او د هر حاضر حضور د هغه په اَشَد و اَقهر حضور سره [منور] دی».

دغه شيخ الاشراق يا شيخ شهيد - بايد د سُهرورديه تصوفي لارې له بنسټوال شهاب الدين عمر سهروردي (۵۳۹ ــ ۶۳۲ هـ ق) سره مغالطه نه شي - د هستۍ پيل د اشراق له لومړنۍ وړانګې (شعاع) څخه بولي او د نورالانوار تر مخې د نور اقرب او نور قاهر حجابونه له مشاهدې او اشراق سره د علت و معلول اړيکه ګڼي. هرڅومره چې باطني بصيرت زياتيږي، د

رڼا او وړانګو پردې يوه يوه پورته کېږي او په هماغه اندازه د «وجود» اصل روښانېږي .

بايزيد انصاري په همدې هڅه کې ځان «روښان» بولي:

پاک روښان لکه چې دی، هسې به تل وي
او ميرزا په ارواح ځوان په صورت زوړ شه

ميرزا خان انصاري

بل ځای:

عرش الله و هسې زړونو ته ويل شي
چې مدام د معرفت په نور جلا

يا:

د عارف چې د باطن سترګې بينا شوې
د معني له مخه لرې کل حجاب شه

اپلاتون چې د اشراقي فېلاسوفي پيلګر ګاڼه شي، د (مُثل) په تمثيل کې په سمبوليکه بڼه د وجود د اصل او د هغه د دوهم تصور د درک تر منځ د نور حتمي وجود ته اشاره کوي. په مغاره کې ناست کسان د مغارې تياره دېوال ته ګوري او تر سمڅې بهر خوځنده څيزونه د هغه اور په رڼا کې د سيورو په شان د مغارې پر دېوال ښکاري. دوی ګومان کوي، چې حقيقت همدغه «سيوري» دي، څه خبر چې حقيقت تر مغارې بهر دی او د نور په وسيله يې وجود معنا مومي؟

د حقيقت په لټون پسې ګرځنده کس که ناڅاپه مخ راواړوي او په بهرنۍ رڼا «روښان» شي، نو ايله پوه شي چې «حقيقت» څه دی؟

خو د اشراق کيسه تر اپلاتونه زړه ده، د لرغوني هند د «ويدا» ګانو په زمانه کې چې د وحدانيت باور واکمن و، د هغه يو «واحد» وجود تر هر بل څه، ان تر هستي (اَسَت) او نېستي (سَت) هم قديم ګڼل کېده، د ويداګانو په نظر «هغه يو، واحد» و، خو زمان له «تيارې» سره ګډ و، وروسته د ظهور رڼا جلوه کوي او د هستۍ د جلوې لپاره د «هغه يو» اراده ظهور کوي. يجور ويدا ته توره (تياره) ويدا هم وايي، په دې ويدا کې د تيارې له تور سمندر څخه «اوتانپد» راپاځېږي او ظهور د نور يا نور د ظهور په بڼه هست کېږي.

پر خپله هستۍ پوهه، څنګه د ادراکو او حواسو دنيا (درک و حس) ته راځي؟ ښايي همدا د انسان لومړنۍ شهودي موندنه وي. دا پوهه د «علم لدن» خورا لرغونې سرچينه ده چې د انسان د «روح» له ژورو او ورکو کوميو (اعماقو) څخه د درک و حس برخې ته راځي. په نوې زمانه کې د ګډ لاشعور او شعور اړيکه پر همدې بنسټ ولاړه ده.

دا باور له هندوستان څخه لوېديځ خوا ته (مصر، بابل او يونان) ته ځي، له يوناني فېلاسوفي سره ګډه بيا وروسته د مسلمانو حکيمانو په وسيله بېرته ختيځ او ان هندوستان ته راځي چې يوه بډايه او رنګينه ګډوله يې د لويې وچې په عرفاني تفکر کې د اصلي تومنې په توګه زېرمه کېږي.

بايزيد روښان د اشراقي فېلاسوفي د تګ راتګ د لارې پر سر «پښتونخوا» کې سر راپورته کوي او په ځانخبرې يا ناځانخبرې بڼه له خپلې قومي يا زړې ناخوداګاه څخه الهام اخلي.

له مشرقي (اشراقي) فېلاسوفي سره په تړاو، د ابن سينا مشهوره رساله «الاشارات و التنبيهات» ولې په دې نامه يادېږي؟ کومې اشارې او کوم تنبيهات؟ که ابن سينا د مشايي فېلاسوفي په پلوي يوازې د محسوس او

عقلاني علم پر محور راڅرخېدلای، نو د الهامي پوهې په موندنو به یې حساب نه کاوه، او ځان به یې پر مشرقي پوهه سنبال نه ګاڼه.

له اپلاتون څخه یو روایت داسې هم شته چې وایي: معرفت د ویدو مرغانو د یوه خېل په شان دی، چې زموږ په روان کې پر ځانګو ناست دي، خپل ځان ته د ورننوتلو په بهیر کې یوه یوه راویښېږي او الوځي، په هر چا کې چې ډېر مرغان راویښ شي، هغه د «معرفت و شناخت» لوړو پوړیو ته ختلی شي. د نیشاپوري عطار د «منطق الطیر» او د شیخ الاشراق سهروردي په «سور عقل» کې د سترګې تړلي باز تمثیل څومره د اپلاتون د دغو ویدو مرغانو له تمثیل سره اړیکه لري؟ بېل بحث دی، خو په ټولو کې تمایل دې خوا ته ډېر دی چې پوهه د درک او حس جهان ته هم، زموږ په روح کې له کومې پټې سمڅې څخه د وړانګو په څېر راوځي.

پیر بایزید روښان په خیرالبیان کې له کوم پټ غږ څخه الهام اخلي، دا غږ د ده په نسبي قدیم «نه ازلي» لاشعور کې زېرمه شوی دی، په خپله زمانه کې او د خپلو مخاطبانو ذهنیتونو او باورونو ته په پام، بله لار نه مومي چې دغه الهامي پوهه د سرچینې له ښوولو پرته ورته ولېږدوي، مجبور دی هغه اسماني الهام وبولي.

نوې اراپوهنه، د تحت الشعور او شعور تر منځ د زړو پوهنو د لېږد رالېږد کشف ښایي دغو بحثونو ته نوی رنګ او تګلوری ورکړي، خو په زړه عرفاني زمینه کې د دې بحثونو څېړنه لاهم د فېلاسوفي، عرفاني، ادبي او دیني متونو په مرسته شونې ده.

زما د قدرمن دوست ښاغلي اکبر کرگر دغه، ستاسو په لاس کې، رساله د پورته سرليکونو په اړه جالب او د پښتنو لوستونکو لپاره گڼ نوي بحثونه لري؛ د مشرقي يا اشراقي فېلاسوفي پېژندنه، په لوېديځ او ختيځ کې د اشراقي باورونو ورته والى او بېلښتونه، په پښتني ټولنه کې د يوه اشراقي عارف (پير روښان بايزيد انصاري) ظهور او په دغه زمينه کې د ده د اثارو او افکارو شننه هغه څه دي چې لا تر اوسه يې هم څنگه چې ښايي حق نه دى ادا شوى .

تر اوسه موږ پير روښان د يوه تاريخي شخصيت، ملي مبارز، د يوه ادبي – عرفاني مکتب بنسټگر او د يوه سياسي خپلواکي غوښتونکي مشر په توگه ډېر پېژندلى دى. د عرفاني شخصيت په حيث هغه لا هم د يوه پير او وحدت الوجودي صوفي په توگه څېړل شوى دى، تازه دا چې د وحدت الوجود خبره مو هم خورا سرسري او د ډېرو ابتدايي متونو او سرچينو په مرسته شنلې ده. زموږ په فرهنگي حوزه کې ډېر بحث پر دې شوى چې پير روښان څنگه ويلي دي؟ پر دې مو لږ بحث کړى چې څه يې ويلي دي؟ ولې يې ويلي دي او له کومه يې ويلي دي؟ د پير روښان د عرفاني باورونو او افکارو سرچينه څه ده؟ د هغه اړيکي له اسلامي فېلاسوفانو سره کوم او د اپلاتوني او نيو اپلاتوني (يوناني – رومي) فېلاسوفي سره يې څه تړاو شته که نه شته؟ له زاړه هندي عرفان سره څه تړاو لرلاى شي؟ د دغو ټولو عرفاني – فېلاسوفي افکارو ترويج او تبليغ په پښتني ځانساتې ټولنه کې څه ستونزې لري؟ په تېره بيا د مغولي واکمنۍ پرمهال چې پښتانه يې په لسگونو وېشونو سره بېل ساتلي وو. پر داسې سياسي ځمکه چې د «اخوند درويزه» په څېر قشري متشرعينو دښمني هم ورپه غاړه ده .

دا پوښتنې نوې علمي مایه و سرمایه غواړي. د دې بحثونو یوې برخې ته باید د ختیځې و لوېدیځې پوهې تلفیق ځواب ووایي او ځینې ربړې یې ښایي نوې ارواپوهنه او بشرپېژندنه ورحل کړي. داسې بحثونوته ښایي پر څېړنه و پلټنه مَین لیکوال اوږه ورکړي. له نېکه مرغه قدرمن کرګر صاحب له دغو ګڼو ځانګړنو او توانمندیو برخمن دی چې پر روښاني نهضت باندې یې د ګڼو کتابونو، رسالو او مقالو ترڅنګ دا دی له مشرقي یا اشراقي فېلاسوفي سره د پیر روښان د تړاوونو په اړه دا رساله یو بل زړور او خورا په زړه پورې ګام دی.

دا ګام دې د دغې لارې ځوانو لارویانو، لوستونکو، پخپله کرګر صاحب او موږ ټولو ته مبارک وي .

د داسې بحثونو د غځېدو او پرې د پښتو ژبې لا بډاینې په هیله.

**څېړنوال عبدالغفور لېوال**

د ۱۳۹۷ لمریز کال، د لیندۍ ۲۸

کابل – جمال مېنه

## د کرګر صاحب نوی کتاب

ښاغلي اکبر کرګر خپل دغه نوی کتاب د کتلو لپاره له یوه لیک سره راولېږه او په ترڅ کې یې راځخه غوښتي دي چې یو څه پرې ولیکم. کتاب یې د بایزید انصاري (پیر روښان) په آثارو کې د اشراقیت او تصوف د غامضو مسئلو پلټنه ده. زه چې د علم په دغه اورشو کې ډېر زیات مبتدي یم چې رشتیا سي د څه لیکلو کار ته وارخطا غوندې سوم. خو د کرګر صاحب غوښتنې ته د نه ځواب ورکول هم راته ناځواني ښکاره سوه. نو درواخلئ دا څو ګډې وډې.

دا کتاب ما له خپلو ورځنیو مصروفیتو سره سره ژر ژر وکوت. د کتاب د تألیف او تصنیف په ځینو برخو کې مې د ښاغلي مؤلف له غوښتنې سره سم خپل نظر هم ونه سپماوه.

ښاغلی کرګر په خپل دغه کتاب کي د اشراقیت پر تصوفي، عرفاني او فلسفي مسائلو باندي په نسبتاً مفصله توګه رڼغېدلی دی او د خپلي څېړنې په ترڅ کې یې د شیخ الرئیس ابو علي سینا، ابو حامد محمد الغزالي، شیخ شهاب الدین سهروردي، شیخ محی الدین ابن عربي، شیخ فریدالدین عطار او نورو فاضلانو پر افکارو باندې د خپلو میسرو منابعو په استناد بیانونه کړي دي. وروسته یې د تصوف او عرفان د دغو مخکښانو افکار او آثار د بایزید روښان له عقیدتي اصولو سره پرتله کړي دي او ورپسې یې پر خپله څېړنه باندې د استنتاج مانۍ درولې ده. هغو کسانو ته د ده د دغه درانه کار ثقلت ښه ترا معلومېږي چې په دې لار کې یې یو څو کمیسه زاړه کړي وي. د ښاغلي مؤلف له ځینو څرګندونو ځخه لوستونکی پوهېږي چې د موافقې او

نه موافقې په باب یې د لوستونکو حق د یوه اکاډمیک اصل په توګه محفوظ پرېښی دی.

په کتاب کې د مطالبو د افادې او د نقل قولونو د پوهېدلو له پاره یې د لوستونکو ژورې پاملرنې ته اړتیا لیدل کېږي، خو د دې ستونزې لامل باید پخپله د فلسفي مفاهیمو په مغلق والي کې ولټول سي. غامض فلسفي موضوعات په ساده عبارتونو بیانول ستونزمن کار دی. د دې پر څنګ باید وویل شي چې د فلسفي مفاهیمو د مطالعې پر وخت باید لوستونکي د فکر کولو او قضاوت اورشو یو څه پراخه او د قیوداتو زندۍ له غاړې لرې کړي. که دا کار ونه کړي، نو له مسلطو افکارو سره د اصطکاک ستونزه به یې د علمي پوهې لار په ټپه وتړي.

لکه ښاغلي مؤلف چې هم څو ځایه دا خبره په څرګندو عبارتونو کې کړې ده، زه هم په دې عقیده یم چې د روښان او روښانیانو څېړنه او سپړنه خورا زیات کار ته اړتیا لري، خو دا بله خبره به هم پر زیاته کړم چې د اخوند درویزه د آثارو او افکارو په باب هم زموږ پر خپلو قضاوتو باندې د نورو څېړنو اړتیا د وخت او زمان غوښتنه ده. زه ډارېږم داسې نه سي چې زموږ څېړونکي پر بایزید روښان باندې د اخوند درویزه د الزاماتو او تورونو د سیاسي اړخ د روښانولو په کار کې په ناخبرې توګه پخپله د سیاسي دریځونو او برداشتونو ښکار سي.

دا کتاب د کرګر صاحب د هغو نورو ابتکاري څېړنو ادامه ده چې د بایزید روښان او روښانیانو په باب یې له څو کلونو راهیسې رانښلوي او په نتیجه کې یې څو کتابه هم د پښتو پر علمي زېرمه زیات کړي دي. ما ته داسې ښکاري چې ښاغلي مؤلف د علمي فعالیت لپاره د نورو مسایلو پر